## ګمراه شیخ ته

د تا سره مې شیخه تضاد په اندېښنو دي
د ستا د بې لارې عامل لمسون د پردو دي
له عقله خپل کار نه اخلي داو هام سیند کې لاهو یې
د حور اود غلمان سره دې مینه له وختو دي
لاس نه ورې خپلې پزې ته پشو پسې را ځغلي
دا ستا دا ناپوهي اوس لوی متل په پرګنو دي
هیڅکله د وطن د آبادۍ په فکر نه شویي
ستا کړنه د وطن د خرابۍ اونړیدو دي
ته خپله قبلویې چې مضر مباح الدم دي
وطن نه ورکیدل د ستا په شان د بد سړو دي

*** پوهندوی دوکتور سیدحسام « مل»

جرمنی « 2019-12-19 »

## هیله

هاغه چې مې په زړه وه دیدار ستا درخسا روه
په زړه مې ګرځیدلي بې تا زړه نا قرار وه
انځور ته دې کتل مې په چیغو ډیر ژړل مې
صورت مې سوځید له تول شپه مې په انګار وه
د مینې کشتۍ مې هیڅ نه وتل ساحل ته
وصال ته دې مي هیله په بیره او په تلوار وه

ونه ګرځی په زړه دي چي هيره يی له «مله»
خپه اوم درپسی سلګی مي وار په وار وه

***جرمنی «2012-201 2»